ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-06

ماخذ تحقیقی مجلہ

OPEN ACCESS

CC BY NC

**رحمانا ز**
اسکالر ایم فل، شعبہ پشتو، عبدالولی خان یونیورسٹی، مردان، خیبر پختون خواہ۔
**ڈاکٹر سید ظفر اللہ بخشالی**
اسسٹنٹ پروفیسر، شعبہ پشتو، عبدالولی خان یونیورسٹی، مردان، خیبر پختون خواہ۔
**ڈاکٹر خلیل الرحمٰن**
ایسوسی ایٹ پروفیسر، شعبہ عمرانیات، ہزارہ یونیورسٹی، مانسہرہ، خیبر پختون خواہ۔

# د سیده حسینه ګل د ناول « ملکه » د فیمینیزم په رڼا کښې جاج

**Ruhma Naz**
M.Phil. Scholar, Department of Pashto, Abdul Wali Khan University, Mardan, Khyber Pakhtunkhwa.
**Dr. Syed Zafar Ullah Bakhshali**
Assistant Professor, Department of Pashto, Abdul Wali Khan University, Mardan, Khyber Pakhtunkhwa.
**Dr Khalil ur Rahman***
Associate Professor, Department of Sociology, Hazara University Mansehra, Khyber Pakhtunkhwa.

***Corresponding Author:** khalilskt@gmail.com

## An Analysis of Sayyeda Hasina Gul’s Novel ‘Malaka’ Through A Feminist Lens

This research paper explores Sayyeda Haseena Gul’s novel ‘Malaka’ through a feminist lens, highlighting the portrayal of struggles of Pashtun women in a patriarchial society, where their identities are

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-06

shaped by societal norms and expectations. It explores their emotions, and resistance against patriarchal norms, revealing the intricacies of social hierarchy and its impact on women lives. As one of the pioneering female voices in Pashto literature, Sayyeda Haseena Gul uses fiction as a powerful medium to challenge traditional gender roles and advocate for women's empowerment. The central character of the novel (Malaka) emerges as a symbol of resilience and autonomy, confronting societal pressures and questioning age-old customs that confine women. Themes such as emotional depth, self-identity, class struggle, cultural traditions and social critique are analyzed to understand the author's feminist standpoint. This research paper concludes that 'Malaka' is not just a narrative of a woman's life, but a literary manifesto for gender equality in a deeply traditional society.

**Key Words:** *Haseena Gul, Pashtun Women, Pashto Novel, Pashto Fiction, Pashto Literature, Gender Roles, Malaka, Feminism.*

## سریزه

وئيلي شي چې شاعر او اديب د قام سترګې وي دوئ د قام هره خوشحالي،غم،،درد تکليف هر څه ويني او محسوسوي او بيا يې نورو خلقو ته ښکاره کوي.هم په دغه شان باشعوره ليکوالو کښې يو نوم د قدرمنې حسينه ګل هم دے. سيده حسينه ګل په کال ۱۹۶۶ کښېږ جون په دويمه نيټه د ميا مظهر شاه کاکا خيل په کور،نوښار کښې پيدا شوه.او د خپل ښيرازه فکر او ادبي ماحول په برکت دورکوټوالي نه يې ليک لوست ابتدا پيل کړه ـ او تر دا وخت دمه يې دپښتو ادب جولۍ ته اتلس (۱۸) کتابونه بخښلي دي چې يولس پکښې د نظم او اووۀ (۷) پکښې د نثر دي-هم په دغه نثري اثارو کښې دوه ناولونه ملکه او وختونه هم شامل دي-

## د ناول لنډه پيژندګلو

ملکه دسيده حسينه ګل هغه ناول دے چې په کال ۲۰۱۱ء کښې د مرکه پبليکيشنز مردان له خوا چاپ دے ـ پۀ دې ناول کښې د پښتنو ښځو پۀ مسائلو باندې زړۀ پورے بحث شوے دے- او د هغوي د ژوند مختلف اړخونه او ټولنيز فشارونه،يې د قلم لاندې راوستلي دي-

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-06

## ناول « ملکه » د فیمینیزم په رڼا کښې

فیمینیزم وایي چې مېرمنو ته دي د برابرئ په بنیاد هغه ټول حقونه میلاؤ شي کوم چې په دي نړئ کښې سړو ته حاصل دي،او د هغوي هر قسمه استحصال دي بند کړي شي- هم پۀ دي حقله فاطمه حسن لیکي چې:

"آج دنیا بھر کے نسائی تحریک میں فعال خواتین فیمنزم کی تعریف یوں کرتی ہیں کہ اس بات کو تسلیم کر لینا کہ سماج میں خواتین کے ساتھ امتیازی سلوک کیا جاتا ہے اور اس رویے کو تبدیل کرنے کے لیے مثبت رویے کو فیمنزم کہا جاتا ہے"[1]

دا هغه نظریه ده چې د اتلسمي صدئ په اخره کښې د یورپیانو له خوا راوړاندې کړي شوه - او بیا ورو ورو د یو تحریک په صورت په چپو چپو خور شو- په وړومبي سر(۱۹۲۰ء) کښې مېرمنو ته د خپلي رایي د څرګندولو اجازه ورکړئ شوه.په دویمه چپه (۱۹۶۰-۱۹۸۰) کښې ورته د سړو سره سم د یو شان تعلیم او روزګار موقعو حق ورکول او دغه شان د صلاحیتونو دبرابرئ په بنیاد او د یو شان کار کولو په اساس د هغوئ په شان د تنخواه ورکولو حق اومنلي شو- په دریمه چپه (۱۹۹۰-۲۰۰۰)کښې د رنګ، نسل،سماج او ژبي د اساس نه بي نیازه صرف د برابرئ په بنیاد هغه ټول حقونه ورکړي شي په کومو چې هغه خپل ژوند ښۀ کولے شي- څلورمه چپه د یوېشتمي صدئ په سر کښې را اوچته شوه چې لا تر اوسه روانه ده- په دي کښې په دي خبره زورورکړي شو چې زنانه کۀ د څه مجبورئ په سوب د کوره بهر وي نو د دوئ د حفاظت حق دي اومنلے شي- دغه شان په یو شان محنت دي دوئ ته یو شان تنخوا یا معاوضه ورکول هم اومنلے شي- مطلب دا چې د وخت تېرېدو سره سره د مېرمنوآزادي اومنلي شوه - دغه شان هغي ته د روزګار، تعلیم،رایي ، تحفظ او قیادت حق اومنلے شو- ولې که اوکتلي شي نو دغه ټول حقونه خو اسلام ښځي له د نن نه څوارلس سوه کاله اګاهو ورکړي دي،لکه د رایي د اظهار،د تعلیم،د روزګار، د پیشي د انتخاب او د وراثت حق، او د ټولو نه غټ په هر حیثیت د عزت لرلو حق دے- څنګه چې سمینه کنول لیکي :

"مغرب میں جوں جوں فیمنزم تحریک بڑھتا گیااِس کے ساتھ ساتھ فرسودا روایات بھی ختم ہوتی گئی-لوگ اس کو تمدن کی فطری ارتقا سمجھتے ہیں لیکن بنیادی وجہ اس کی یہی ہے کہ جس روایت میں انسان (مرد، عورت) کو برابری کا حق نہیں وہ خود ہی ختم ہونے والا ہے- یہی

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-06



*وجہ ہے کہ جہاں عورت کو ازادی حاصل نہ ہوئی وہ اقوام جیسے ڈینش، پولینڈ وغیرہ وہ ترقی پذیر ممالک بن گئے ہیں۔"[2]*

د دنيا هره ټولنه د ښه سماجي ژوند تيرېدو د پاره څه نه څه قاعدي او قوانين لري ولي په پښتنه ټولنه کښي که يو پله نور ډېر خصوصياتو دي لکه ميلمه دوستي،ننګ، پت ، مړانه او د مظلوم مرسته نو يو څو پکښي داسي هم دي چي د اسلام د اصولو سره متصادم راځي لکه د سوري رواج،لور خور ته په وراثت کښي د حصه نه ورکولو رسم ،د ولور رسم او دغه شان نور چې په ټولنه کښي د ټولو ژوند کونکيو ژوند يې په عمومي توګه او بيا دپښتنو مېرمنو ژوند يې په خصوصي توګه په عذاب کړي وي- دغه حالات چې يو عام کس ويني ګو ري نو هم تري متاثره کېږي خو شاعر يا اديب ( د قام سترګي ) يې ډېر محسوسوي او غواړي چې نور و خلقو ته هم يې څرګند کېږدي-

په دغه شاعرانو اديبانو کښي يو طرف ته کۀ نارينه ليکوالان شامل دي نو بل اړخ ته په دي سېمه زنانه ليکوالانو ( الف جان خټکه، زيتون بانو،سلمه شاهين او روشن کليم وغيره) هم خپل وس کړي دي چې دغه ناوړتيا ګاني په داسي رنګ ښکاره کړي شي چې اصلاح يي اوشي - دوي نه صرف په عمومي توګه د برابرئ په بنياد د هر انسان د ازادئ خبره کړي ده بلکې په خصوصي توګه يې د پښتنو مېرمنو ستونزې ډېر په جرأت مندانه انداز بيان کړي، له پاره د دي چې په ټولنه کښي هغوئ ته خپل حقونه ميلاؤ شي او د هغوئ نور استحصال دې بند کړې شي-

په دغه زنانه ليکوالانو کښي يو نوم د سيده حسينه ګل هم دے.سيده حسينه ګل په دويم جون ۱۹۶۶ ء کښي د نوښار تحصيل په زيارت کاکا صيب کلي کښي د کاجي خېلو په محلت کښي د ميا مظهر شاه کاکاخيل کره سترګي اوغړ ولي ابتدائی تعليم يي هم د خپل کلي کاکا صيب نه حاصل کړواو د اغلي کلثوم زېب خبره چي :

"له سبق يي وئيلو چي ادبي ليک لوست ته يي ملا وتړله"[3]

او دغه شان نن يې د شعر او نثر په مجموعي توګه اتلس (۱۸) کتابونه چاپ دي او ګڼ شمېر ناچاپ اثار هم لري-

اغلي په خپل ليک کښي يوه حساسه او باشعوره ليکواله په نظر راځي چې د ژوند ښه او بد دواړه اړخونه ويني ،محسوسوي او بيا د قلم په وسيله يې د اظهار تر څنګ اودروي-او د هر هغه مجبوره، کمزوري او بي وزله انسان ( خواه که

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-06

هغه ښځه وي او که سړے) چې خپل درد په خپله نه شي بيانولي، دا يې ژبه او اواز ثابت شي-

دا اغلي غواړي چې په پښتنه ټولنه کښې هم د مذهب او قانون په بنياد هر بنيادم ( په خصوصي توګه ښځو) ته دي خپل حق ميلاو شي-کوم چې اسلام ورکړي دي، هم په دغه تناظرچې مونږ د اغلي ليکلي ناول ملکه (۲۰۱۱ء) ګورو نو په دي نتيجه رسو چې اغلي ليکوالى تر خپله وسه ښه کوشش کړي دی چې د ښځوا کی د پاره اواز اوچت کړي- او د دغه مقصد حاصلولو د پاره يې د ناول( صنف) انتخاب کړی دی ـ ځکه چې:

" په ناول کښې ليکواله ازاده وي چې هر څومره ليکل غواړي او هر څنګه يې غواړي نو کولي شي چې اوليکي او د خپل خيال او فکر څرګندونه اوکړي،خپل فن لوستونکيو ته وربښکاره کړي او د خپل صنف او ټولني سره خپل فکر او ارزوني شريکي کړي ځکه چې هم دا ليکوالي د ټولني لار ښودونکي،د دوئ غلطۍپه ګوته کونکي او سمونکي وي"[4]

ملکه د موضوع په لحاظ د پښتنو ښځو په مسلو ليکلي شوي ناول دے- لکه چې ښاغلے رشيد احمد ليکي:

" سيده حسينه ګل په دي ناول کښې انساني الميي او مجبورئ د معاشري دورنګی او منافقت ښودلي او غندنه يې کړي"[5]

په ناول ملکه کښې اغلي حسينه ګل دا هڅه هم کړي ده چې دپښتني ټولنې ټولني سره هندو معاشره موازنه هم کړي او بيا د دغه موازني په بنياد اغلي يوه هندوه جينئ ( کرنو) خو په خپل ژوند کښې ازاده او د خپلې رايي مالکه ښايي ولي د پښتني ټولني ډيري ښځي ( کردارونه) لکه د جلال د مور نه راواخله تر جمېلي،بر ښنا،رنا،خديجي پوري او بيا د بربښنا د مور نه راواخله د شهنشاه د ښځي شيريني پورې او په تيره تيره ملکه هره ښځه د معاشري د ستم لاندې ډيري د بي بسی په حالت ښودلي شوي ده- د ثبوت په طور د ناول نه يو څو اقتباسونه رانقل کولي شي چې د فيمينيزم په حقله د اغلي ژورفکراو تيرۀ نظر تري ښکاره کړي شي ـ لکه

د دلاور د معشوقي کرنو ( هندوي جينئ) پحقله:

" خو کرنو خپل پلار ته دا خبره سکوټه کړې وه چې...دلاور به زما سره اوسي....د کرنو . پلار د پاره د نيازبيني لور د خلي دا خبره ډيره د فکر مندئ وه "[6]

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-06

دي نه دا خبره واضحه کېږي چې په هغه دور( د هند دويش په اوان) هندو معاشره کښې ښځه هغه شان بې بسه نه وه څنګه چې په پښتنه ټولنه کښې ده ـ دغه شان په پښتنه ټولنه کښې د سړي بالا دستي او د ښځو بې بسي داسي ښکاره کوي:

"د هغۀ عمر اوس د د ځوانۍ په باغ ورګډ شوي وۀ ـ په ښکر به يې هر وخت ټوپۍ کږه اېښودې وه....د ځان سره به يې شپيلي وهل او د خبرې کولو خو ورسره نه د مور مجال وۀ نه د پلار...بس د خپلې مرضۍ خاوند وۀ،کۀ به يې ښۀ کول کۀ بد....د چا ورسره کار نۀ وۀ .. د هغه به هم د پيسو اخيستو غرض وۀ..په هغه ورځ به پلار سره نزدې نزدې کېدو ـ پلار به يې پوهه شو چې پيسې غواړي...او کۀ کله به يې ورته انکار اوکړۀ نو بيا خو به يې د برېتو نه وينې څڅېدې ـ د کور لوښي لرګي به ټول مات شوي وو ـ اوس خو يې...خواره جميله هم د ژوند ملګرې وه ـ ترور او ورېره به دواړه په ژړا وې"[7]

د جلال د مور په حقله :

"او داسې چې د کونټون لس کاله يې په خپلې ځوانۍ غنې راښکلی نو ايله يې د مشر ځوی جلال شونډه په شنه کېدو شوه- هغې هم د خپلې ځوانۍ رنګونه د دې لسو کالو د زړه چاودون په سفر کښې د غم او انديښنو په دې دوړو کښې خړ کړی وو ـ په مخ يې د وخت او حالاتو کرښې د ورايه ښکارېدې ـ "[8]

چې کله د جمېلې لور اوشي. نو په دغه جرم (حالانکې نر يا ماده زيږول د ښځې په اختيار کښې نه وي) د هغوئ حالت داسې ښکاري کوي :

" په جميلې ډېر کړاو تېر شوے وۀ ـ خوابښې يې زر خپله نمسۍ دلاور ته بوتله...وګوره! څومره ښکلې ده...او دلاور داسې غلې ولا ړ وۀ لکه يو دېوال،لکه د يو بت"[9]

يا دا اقتباس

"پۀ لږه موده کښې د جميلې پرله پسې څلور لُوڼه وشوې ـ هر ځل به د نوې لُور پۀ راوړو د جميلې خوارې ورځ بده وه ـ خواښې خو ئې د دويمې نمسۍ د غمه پۀ هغه

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-06

ورځو کېښي ساه ورکړه .اوس جمیله د وخت ډېرو ازمېښتونو ته یواځې سر ټیټي وه . د هغې د خپلې لُونو سره ډېره مینه وه خو چې دلاور به د هغې پهٔ وړاندې بیا بیا د زوي ارمان کولو نو هغې ته دا ماشوماني د ژوند کولو یو پېغور محسوس شوې --- ستا شکل د زوي د راوړلو نهٔ دے چې کښېني نو لُور--- چې کښېني نو لُور "[10]

"رڼا خپله وړه خور پهٔ ترخ کړه او جمیلې چې د وزن د زیاتي، ستوماني او بې خوبۍ د لاسه ئې ساه ګډه وډه کېده . بیا بیا ئې پهٔ اسمان د نمر راختونکې ځیرې ته کتل چې پهٔ نظر ئې نهٔ شوه . د جمیلې شونډې هم سمې کلکې او وچې وې او دا ځل ئې سترګې سمې کوغالو ته پرېوتې وې . یو قدم اخستل ورته هم ډېر ګران وو د جلال دوي کور دوي نه پهٔ لږه فاصله کښې و. هغې خپلو ماشومانو ته پهٔ ورو اواز ووې شابۍ مخکښې ځئ تاسو کهٔ راسره ئې نو خلق مې پېژني . خو پهٔ توره خړه کښې وړې ماشوماني یوازې تلو ته نهٔ تیارېدې"[11]

لکه څنګه چې دجمېلې په اختیار کښې نه وه چې هغه دي زوئ اوزېږوي ولې بیا هم هغه د زوي د نه راوړو سزاګاني زغمي دغه شان ماشومه رڼا هم په نفسیاتي توګه د دغه جرم اثراتو سره مخ ده او د پلار د بې مهرۍ رویيه زغمي:

" چې کله به هغه دلاور ته په مینه ور نزدې شوه نو دلاور به اوچت پاڅېدو او د جمیلې په سترګو کښې به غټې غټې اوښکې راغلې . . دا ماشوماني چې په شته پلار کښې بې پلاره وې . دي احساس به د جمیلې وینې وچولې ."[12]

د دغه نا کړي جرم اثراتو سره مخ جمیله او د هغې لورياني د ژوند د بنیادي ضرورتونو نه هم محرومه وي:

" په کور کښې د ساه ډوبې یوه فضا وه چې د ټولو ژوند یې متاثره کړي وۀ خو د وړو ماشومانو کچه ذهنونه خو لکه د سپین کاغذ دا حالات په ځان زر رالیکی . د جمیلې د لوڼو اؤ دجمیلې په دې کور کښې ډېر محرومۍ وې . نهٔ ئې ښهٔ

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-06

خوراک ،جامه جوړه،نهٔ ئې دارو درمل نصیب وو ـ ـ ـ او نهٔ
د دلاور مینه"[13]

د ملکي د دوه وادهٔ شوي خویندي چې اکثر به د خاوند انو د لاسه وهلي ټکولي کیدي د هغوئ د دغه حالت نقشه داسي وړاندي کوي:

" څه ګوري چې دواړه خویندي يې خپلو کښې په سرو سترګو ژاړي او مخامخ ورته خاوندان د قهر سرهٔ پرهٔ ناست ، بد بد ورته ګوري.."[14]

" هغي د رڼا لاس په رو غوندي د لوپټي نه پرانستو،لاس يې د ماتېدو نه بچ شوے وهٔخو دومره زورلے شوے وهٔ چې بې اختیاره به د رڼا د خولي نه وئ ابی! فریاد اوختهٔ "[15]

د برېښنا (چې د ښایستو په نامه د چا غټانو خلقو په بيټکونو کښې ګډا ګاني کوي او په دغه ګټه ځان او مور ساتي او د مور علاج کوي ) په حقله:

" د مورنه بغير د هغي هيڅوک هم نهٔ وو ـ هغي هم لکه د يوي درنې پېغلي د خپل ژوند او کور تصور کړي وهٔ خو حالاتو تري نه دا تصور شوکولے وهٔ ـ وخت د پليتی يوې کندي ته غورزولي وه او د پليتی دا ګټه يې په نا زړهٔ د مور په علاج لګوله ـ"[16]

جمال چې دښايستو( برېښنا) يو مخلص دوست پاتي شوے وې او د ښایستو د دغه حالت او ماحول نه ښه خبر وي اوهم په دغه اساس د خپلي لور په حق له ډېر فکر مند وي ،ناول نګاري يې حالت داسې ښکاره کړي دے:

"سعيدې! زما لور به تل د ځان سره ساتي دا به د کوره نه اوباسي ـ دا به چاته نهٔ ښايي ـ څوک به دي ته نه پرېږدي..........سعيدې! زمانه د ډېرو خونو لېوانو شرمخانو نه ډکه ده ـ د انسانانو په دي ځنګل کښې ډېر اوړي تږي پړانګان لېوان او شر مخان ګرځي ـ زما لور درنه و نهٔ خوري، زما لور درنه شوکې نهٔ کړي ـ "[17]

دغه شان يوه کونده بې وزله او بيماره ښځه چې د پېغلي لور حالت ته ګوري نو ساه يې په مرئ کښې اونښلي لکه د برېښنا د مور دا حالت:

" نن د هغي د مور رنګ زیړ تښتېدلے وهٔ...سترګي يې خړې وي،لکه چې د ژوند رڼا ګاني ترې په کډه تلي وي ـ

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-06
ماخذ تحقیقی مجلہ

لوري! ماته پته ده چې زما وخت ډېر لنډ دے خو ستا فکر
مې ساه ورکولو ته هم نه پرېږدي ـ "[18]

دغه شان په ناول کښې دملکي د ورندار(شهنشاه نوي ناوي )شيريني چې کوم استحصال روان دے کېږي، ناول نګاره يې څه په دي ټکو کښې ښکاره کوي:

"د شهنشاه شپې ورځې ډېرې عجيبه وې ـ د هغۀ نوې ناوې
شير يني به د هغه ټوله شپه انتظار کولو خو شهنشاه يو ځل
هم هغې سره په مينه نزدې شوے نۀ وۀ"[19]

يا دا چې

" خو د شهنشاه ورځې شپې نه بدلېدې ـ د شيريني غم په
زياتې وۀ ـ په لږو ورځو کښې د شېرنې وجود اوچ لرګے
شۀ ـ خوراک څښاک ترې نه پاتې وۀ ـ "[20]

يا

" د هغۀ په ذهن به اوس هم د خپلو هلکانو تصويرونه تلل او
راتلل ـ د هغوئ سره تېر وختونه به يې مخکښې ولاړ وو ـ
د دې غم نه به يې بيا کور کښې د جنګ فضا جوړه کړه ـ
وهل به بيا د خوارې شيريني نصيب وۀ ـ "[21]

د ناول مرکزي کردار ملکي ته د فيمينيزم په رڼا کښې ځېر شو نو اګر چې ملکه لکه د نورو پښتنو ښځو مجبوره او لاچاره نه ده ښودلې شوې او د هغې هم غټه وجه دغه بيان شوې چې ورور ورپسې شوي وو او د دغه رور( شهنشاه) په راتګ نه صرف د جمېلې ( مور) ورځې شپې ښې شوې وې نو بل اړخ ته فاطمې ( خور) يې هم د ملکي د نوم اعزاز او مقام ګڼلى وو ـ

" دا خو فاطمې لوی کار کړی دی،ورور خو په ځان پسې
فاطمې راوستے دی ـ ــ زما بهادري لور ــ ـ زما ملکي ـ
"[22]

يا دا چې

"ملکه يوه انقلابي پېغله وه چې ځينې روايات او قدغنونه يې
سراسر يو ظلم ګڼلو ـ "[23]

او د غه شان د شهنشاه د پيدايش نه پس د ناول تر آخره پورې هغه يوه مضبوطه پښتنه پېغله ښودلې شوې ده خو اخر انجام يې هم هغه دے کوم چې د يوې انقلابي ښځې په پښتنه ټولنه کښې کيدے شي- چې د دې خبرې سپيناوې کوې چې اغلې حسينه ګل په دې ټولنه کښې ښځه په کوم مقام ليدل غواړې او

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-06

هغه په اصل حقیقت کښې په کوم مقام ولاړه ده ـ لکه چې ښاغلے ساحل یوسفزے لیکي:

> " دناول موضوع ژوند وي نو ځکه د ناول نګار د ژوند سره تړلي فلسفه هم پکښې اهمیت اختیاروي او کتلے دا شي چې دی ژوند د کومې زاویې نه ګوري یا دی ژوند کوم معیار ته د راوستو خواهش لري ـ "[24]

دغسې اغلي حسینه ګل چې په پښتنه ټولنه کښې د ښځو د ژوند کوم معیار جوړول غواړي هغه یې د ملکې په کردار کښې لکه د یو رنګین خوب تجویز کړي - خو چې د راوېښېدو نه پس د حقیقت دنیا ته اوګوري نو:

> " وخت او د حالاتو زمکې د ملکې د پاره د تود تبخې شکل اختیار ولو ـ هغه په دې زمکه یک یواځې ولاړه وه ـ په تن یې جامې هم شلېدلي وې ـ هغه پښې ابله پښې وه ـ د سر وېښتهٔ پرې د لېونو غوندې ببر شوي وو ـ دا وخت د کلي د ورانو ماشومانو یو لوے لښکر په ملکې پسې تر کوره رارسېدلے وهٔ ـ ـ ـ لېونۍ ده ـ ـ ـ ـ ـ لېونۍ ده لېونۍ ـ"[25]

غرض دا چې اغلي حسینه ګل د دې ناول د لارې په ټولنه کښې د ښځو سره روا ناروا سلوک په دې غرض رامخې ته کړې دی چې نه صرف د لوستونکیو پام ورته را اوګر ځولے شي بلکې د دغه خرابو نبوکه دې هم اوکړې شي ،چې د سبا ښځه هغسې مجبوره او بې بسه پاتې نه شي لکه چې نن ده ـ

## حوالي


1. فاطمہ حسن، فیمنزم اور ہم، وعدہ کتاب گھر لاہور، ۲۰۰۵، ص ۲
۲. سمینہ کنول، فیمنزم ایک عالمگیر تحریک، مشمولہ آج اور کل، حافظ پریس کراچی، ص ۲۰۰۶، ص ۴۳
3. کلثوم زېب ،پښتني ملغلرې،منګل کتاب کور پېښور،۲۰۲۴ ء،مخ۱۳۳
4. رشیداحمد،د پښتو ناول په وده کښې د مېرمنو برخه،پښتو اکېډمي بلوچستان،سنه ۲۰۱۸ء مخ ۱۴
5. هم دغه کتاب مخ ۱۶۱
٦. سیده حسینه ګل، ملکه، مرکه پبلیکشنز مردان، ۲۰۱۱،مخ۴۴
7. هم دغه کتاب مخ۱۹
8. هم دغه کتاب مخ۲۷

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 6, Issue 2, (April to June 2025)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2025(6-II)urdu-06

9. هم دغه کتاب مخ۳۴
10. هم دغه کتاب مخ۲۹
11. هم دغه کتاب مخ۵۴-۵۵
12. هم دغه کتاب مخ ۲۹
13. هم دغه کتاب مخ ۲۹-۳۰
14. هم دغه کتاب مخ ۹۲
15. هم دغه کتاب مخ۹۲
16. هم دغه کتاب مخ۱۴۳-۱۴۴
17. هم دغه کتاب مخ ۱۵۳
18. هم دغه کتاب مخ۱۶۲
19. هم دغه کتاب مخ ۱۶۵
20. هم دغه کتاب مخ ۱۶۷
21. هم دغه کتاب مخ۱۸۷
22. هم دغه کتاب مخ ۸۷
23. هم دغه کتاب مخ۹۶
24. هم دغه کتاب مخ ۸
25. هم دغه کتاب مخ۱۹۹